## ولې د مسلمانانو یو بلاک نه لرو؟

د G20 او بریکس وروستۍ ناستې ښیي چې دوه بلاکونه د راڅرګندېدو په حال کې دي او د نړۍ ډېری هېوادونه به ژر پرېکړه کوي چې کوم اړخ غوره کړي. له ډېر وخت راهیسې مالي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګونه د لیبرال نړیوال نظم تر لاس لاندې وو؛ خو په عراق او افغانستان کې د امریکا جګړو د دوی دا دریځ کمزوری کړ او د ۲۰۰۸م کال له مالي ناورین وروسته، لیبرال نظم سخته ضربه وخوړه. روسیه او چین نړیوال سوېل (په شمال او سوېل د نړۍ وېش؛ چې په نړیوال سوېل کې افریقا، سوېلي/لاتینه امریکا او د اسیا مخ پر ودې هېوادونه شاملېږي. ژ) ته د بدیل نظم په وړاندې کولو سره له دغه وضعیته ګټه پورته کوي. اسلامي نړۍ به د G20 او بریکس ترمنځ سیالۍ د ګټونکي په ټاکلو کې مهم رول ولري.

د بریکس غړي هیوادونه په اګېسټ کې په جنوبي افریقا کې سره راټول شول او د اجنډا اصلي ټکی یې د بلاک پراختیا او د نویو هیوادونو اضافه کول وو. ارجنټاین، مصر، ایتوپیا، ایران، سعودي عرب او امارات ټول د دغه بلاک غړي شول؛ د کاغذ پر مخ دا یو پیاوړی بلاک دی. له دغه بلاک سره د نړۍ ۶۰٪ د تیلو زیرمې؛ د نړۍ د مهمو منرالونو لویه برخه او د نړۍ ۴۰٪ نفوس دی. اندونیزیا به هم ورسره یوځای شي. دا بلاک د ناټو درې برابره او د نړۍ تر ټولو لویه ناغربي ډله ده. چین او روسیه له کلونو راهیسې لېواله وو چې مهم اسلامي هیوادونه له خپل بلاک سره یو ځای کړي؛ دا کار یې بلاک ته اعتبار ورکوي او ستنې یې ټینګوي.

په هند کې د G20 په ناسته کې مهمه خبره دا وشوه چې د هند او اروپا ترمنځ به د منځني ختیځ له لارې دهلېز جوړېږي. امریکا، هند، سعودي عرب او نورو هیوادونو یو تفاهم‌لیک لاسلیک کړ چې له مخې به یې د اورګاډي او سمندري لارو یوه شبکه جوړېږي چې د هند نیمه وچه به د منځې ختیځ له لارې له اروپا سره ننبلوي. په دې اړه ډېر جزیات نشته خو که دا کار وشي، د ټرانسپورټ وخت یو پر درېیمه کمېږي. یو ځل بیا، د منځني ختیځ اسلامي هېوادونه د دغې پروژې په مرکز کې دي. د یادولو وړ ده چې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان اعلان وکړ چې د پراختیایي سړک پروژې- هغه ۱,۱۷۵ کیلومتره رېل‌پټلۍ چې په عراق کې د فاو سوېلي بندر څخه پیلېږي او د مدیترانې په غاړه کې د ترکیې تر مېرسین بند پورې رسېږي - له کارولو او د ترکیې له ګډون پرته به دا دهلېز نه وي.

اسلامي هیوادونه د G20 او بریکس په بریالیتوب کې مهمه ونډه لري او دواړه بلاکونه هڅه کوي چې د مسلمانو حکامو تمویل او ملاتړ ترلاسه کړي. شرق او غرب دواړه پوهېږي چې اسلامي نړۍ، په نړۍ کې اساسي رول لري؛ د اسلامي نړۍ معدني شتمنې او سټراټېژیک موقعیت د دواړه بلاکونو لپاره خورا مهم دی. په ځانګړې ډول دا چې اوس روسیه او چین د غربي بنسټونو د ننګولو هڅه کوي یا یې ممکن ځایناستي شي.

اسلامي هېوادونو ته د شرق او غرب دغه ضرورت ته په کتو؛ يو ځوک ښايي فکر وکړي چې د اسلامي هېوادونو حکام ولې دا خبره نه درک کوي او د شرق او غرب د اجنډاوو د ملاتړ پر ځای، له خپل ځواک څخه کار نه اخلي او خپل بلاک نه جوړوي چې نړۍ د خپلو ګټو پر محور راوڅرخوي. مسلمان حکام په دې خبره کې ځکه پاتې راغلي چې له دوی سره يوازې د خپلې څوکۍ غم دی او دا ډول نړيوالې موخې نه لري. دوی وړتياوې او ظرفيتونه لري؛ خو څنګه يې چې شرق او غرب دغو وړتياوو ته ګوري، دوی پخپله نه ورته ګوري. ځکه خو د دې پر ځای چې له دغو وړتياوو ځان ته ډېره ګټه ورسوي؛ تل د نورو دولتونو له بلاکونو سره يو ځای کېږي او د دوی د اجنډاوو ملاتړ کوي.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدينه منوره کې د نوي اسلامي دولت بنسټ کېښود؛ له کمزورۍ او د سرچينو له کموالي سره سره يې د اتحادونه جوړولو، معاهدو او له خپلو دښمنانو سره د مبارزې له لارې يې د امت د پياوړي کولو لپاره کار وکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم نړيوال وضعيت –چې د روم او فارس تر واک لاندې و- څاره او له دې لارې يې اسلامي دولت تيار کړ چې له فرصتونو ګټه واخلي او د هر ګواښ پر وړاندې دفاع وکړي. له هغه صلی الله علیه وسلم وروسته اصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم دغه کار ته دوام ورکړ او بلاخره اسلامي دولت د وخت د دواړو زبرځواکو ځايناستی شو. د رسول الله صلي الله عليه وسلم رسالت پوره شو خو د دين په اظهار، خپرولو او نورو ته رسولو کې اصحاب کرامو ډېره خواري کوله، سره له دې چې پوهېدل چې په خپل ژوند دين ټولو ته نه شي رسولی. د دوی هڅې وې چې اوس په نړۍ کې دوه مليارده مسلمانان دي.

نن ورځ مسلمان ملتونه شرق او غرب دواړو ته خورا مهم ګڼل کېږي؛ خو زموږ حکام يوې اسلامي اجنډا ته د رسېدو لپاره له دې څخه ګټه نه اخلي. که داسې حکام ولرو چې اسلامي اجنډا پر مخ يوسي؛ نړۍ به يو نوی زبرځواک پيدا کړي او يوه نوې دوره به پيل شي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**عدنان خان**

**ژباړن: فريدون محتاط**